نېټه: ۱۳۹٦/۱۱/۴
مطبوعاتي اعلامیه
media@mcit.gov.af
media.mcit96@gmail.com

## د هرات په تورغونډۍ کې د ریل پټلی پرانستل شوه

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت او د ترکمنستان جمهوریت ترمنځ د اړیکو او دوستۍ د زیاتیدو په پار د هرات د تورغونډۍ په سیمه کې د اوسپنې کرښه په داسې حال کې پرانستل شوه چې د افغانستان په استازیتوب ښاغلي شهزاد اریوبي د مخابراتو او معلوماتي ټکنالجۍ وزیر او د ترکمنستان په استازیتوب د هغه هیواد د ریلوې وزیر برخه درلوده.

د افغانستان او ترکمنستان د حکومتونو ترمنځ د همکاریو په چوکاټ کې، دواړو هېوادونو د سوداګرۍ، ټرانزیټ او ټرانسپورت په برخه کې مهم ګامونه پورته کړي دي. چې د آقینې بندر د جوړیدو سربیره چې په تېر وخت کې ترسره شوی ده، نن دداسې ورځې شاهدان یو چې د تورغونډۍ په بندر کې د اوسپنې کرښه په بنسټیزه توګه بیا رغول کیږي او نوي تاسیسات په اساسي توګه جوړیږي .
د لاجوردو د هوکړه لیک پر بنسټ به دواړه هېوادونه د شتو امکاناتو څخه د موادو په انتقال او ترانزیت کې اعظمي استفاده کوي .
د ترکمنستان هیواد سره دغه همکاري به یواځې تر تورغونډۍ او د هرات ولایت پورې تړلې نه پاتې کیږي بلکه په راتلونکو کلونو کې د شوو تړونونو او هوکړه لیکونو پر بنسټ به دغه لړۍ د تورغونډۍ نه د هرات ولایت پورې او بیا به هرات ولایت د مزار شریف ښار او کندز ته وغزیږي او د کندز له لارې به تاجکستان د ترکمنستان او ایران سره ونښلوي